# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Ideological | مسائل ایدئولوژیک |
|---|---|



الحاج داکترامین الدین « سعیدی ـ سعید افغانی »

۱۰ نومبر ۲۰۱۹

# د الله تعالی له یاد نه نباید غافل شو!

یقیناً داسي غفلت خساره د دنیا او آخرت دی !

قرآن عظیم الشان فرمایی : « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ» ( المنافقون آیه ۹ )

(ای مؤمنانو ! تاسو دی ستاسو مالونه او اولادونه نباید دالله تعالی له یاد نه غافل کړي، اوڅوک چې داسي وکړي نو هماغه خلک (پوره) تاوانیان دي.)

انسانان په یوه حساب په دوه ډولو ویشل کیږي. لمړی هغه ډله انسانان دي چې ددنیا روانو حالاتو تر حده زیاد متأثر کړي دي او په دی امید چې عمر به یې ډیر پاتي وي ، آخرت ته یې شا کړې اودیو ثانیي لپاره په دي فکر هم نه کوي، په تاریکی، غفلت دی او په تأسف سره چې دالله تعالی د ورکړ شوي فرصت نه هم بده ګټه پورته کول غواړي. هو داسي کسان غفلت او انحراف کي پراته دي .

بله ډله انسانان هوښیاران دي او د نجات لاره یي غوره کړي او په دی فکر دي چې راتلونکی به مې څرنګه وي او په څنګه حال به له فاني دنیا په کومه سرمایه ابدیت ته روانیږم؟

په دي فکر وي چې څه له ځانه سره قبرته وړو او څه مو وروسته داسي پاتیږي چې د اوږده او بې پایانه سفر توښه مې وي؟ نیت، قول او عمل مې راته ثواب او خواخوږو ته مې پرې دنیوي او اخروي تسهیلات برابر کړي .

د ظاهري شواهدو له مخې لمړی ډله انسانان زیات او په تأسف ادا روستی ډله راته لږ ښکاري .

انسان نباید هیڅکله هم مرګ له یاده دونه باسي .

« اینما تکونوا یدرککم الموت و لو کنتم فی البروج المشیده. صدق الله العظیم.» له مرګه خلاصون نه شته .

مرګ زوړ او ځوان نه لري او هرکله باید ورته په پوره توګه د امکاناتو په جوکاټ کي مشروع او معقول تیاری ونیسو او موقع له لاسه ورنکړو .

هماغسي مو چي وویلي په یاد ولرئ چي دمرګ نه هیڅوک تینتیدلی نشي. مرګ هرچاته راځی او که کله چي وخت یې راشي نو یو ثانیه مهلت او وخت چاته نه ورکوي .

و ما علینا الا البلاغ المبین